مسیر
ورځپاڼه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
چهارشنبه د ۱۳۹۹ د غبرګولي ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د جون لسمه | ۵۴۸مه ګڼه


## کتاب

۴ مخ

### مشري؛ د کاروباري چارو مدیریت




د دغه کتاب اصلي موضوع د ډله ییز کار پر ارزښت او اهمیت او دا چې ډله ییز کار د انفرادي هغه په پرتله څومره ګټور او اغېزمن دی؛ راڅرخي.

### په کندهار کې د لومړي ځل لپاره په شخصي لګښت کرنیز لابراتوار جوړ شو



یوه بهرمېشتي افغان پانګه وال په کندهار کې د کرنیز لابراتوار پر جوړولو پانګونه کړې او په لومړي ځل یې د کرنې په برخه کې دغه مهمه اړتیا پوره کړه.

انجنیر سمیع نوري چې په دې برخه کې یې په بهر کې زده کړې کړي، کندهار ته راغلی او دلته یې د نوري کرنیز لابراتوار بنسټ کېښود.

نوري وایي، کندهار د هېواد مهم کرنیز ولایت دی چې ۸۰ سلنه وګړي یې په کرنه او بڼوالۍ بوخت دي، خو د دې چارې د ودې لپاره یوه کرنیز لابراتوار ته اړتیا وه.

هغه زیاته کړې، د دغه کرنیز لابراتوار پر جوړولو یې له ۱۰۰ زره ډالره ډېره پانګونه کړې چې ۵۱ ډوله کرنیز معاینات پکې ترسره کېدای شي. دی وایي، په دغه لابراتوار کې د خاورې، اوبو او د نبات د مختلفو برخو؛ لکه ریښې، تنې، پاڼې او مېوو د بېلابېلو امراضو معاینات ترسره کېږي.

# تمثیل که حقیقت؛

## حریت: امریکا اوس پوه شوه چې سوله او جګړه د پاکستان لاس کې دي





د باجوه سفر، موخې او د ښکېلو لورو دریځونه — ۲ مخ

د ډوما جنګ — ۲ مخ

د کرونا په اړه د خټیځ فورم د مشر ډاکتر وضاح خنفر په زړه پورې وینا — ۳ مخ


## ستولټنبرګ: دوامداره سوله یوازې د افغانانو په مشرۍ د خبرو په پایله کې راتلای شي

د ناټو عمومي منشي ینس ستولټنبرګ ویلي چې ناټو د افغانانو په مشرۍ د سولې له بهیره ملاتړ کوي او نوموړی د افغانانو ترمنځ خبرې سولې ته د رسېدو لار بولي.

هغه همداراز ویلي چې ناټو د طالبانو او امریکا ترمنځ هم د سولې له هوکړې ملاتړ کوي، ځکه دغه هوکړه افغانستان کې د دایمي سولې د پیل ټکی دی. نوموړي څرګنده کړې چې دوامداره سوله یوازې د افغانانو په مشرۍ د سولې د خبرو په پایله کې رامنځته کېدی شي.

ستولټنبرګ زیاته کړې: «زما په باور غوره لار دا ده چې موږ د افغان ځواکونو ملاتړ وکړو او دوی وکولی شي په خپل هېواد کې سوله او ثبات تامین کړي.» هغه ویلي چې ناټو له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې د افغانانو پر پیاوړې کېدو او د افغانستان باثباته کېدو باندې متمرکزه ده. د ناټو عمومي منشي همداراز زیاته کړې: «ستونزې ډېرې دي او ډېر لاملونه یې هم درلودل چې له مخې یې د افغانستان په تړاو اندېښنې وې، خو یوه لویه لاسته راوړنه هلته شته او هغه دا چې موږ پیاوړي افغان ځواکونه لرو چې خپله کولی شي د ترهګرو پر وړاندې مبارزه وکړي.»

دا په داسې حال کې ده چې د افغان حکومت او زلمي خلیلزاد لخوا د افغانانو ترمنځ د سولې خبرو د پیلېدو په موخه هڅې روانې دي.

خلیلزاد روانه اونۍ قطر او پاکستان ته سفرونه درلودل او د طالبانو د سیاسي دفتر مرستیال، ملابرادر او د پاکستان له لوی درستیز جنرال باجوه سره یې لیدلي دي. افغان حکومت په دې وروستیو کې د افغانانو ترمنځ د سولې خبرو پیل لپاره د چمتووالي ډاډ ورکړی دی.

## افغان حکومت د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره بشپړ چمتووالی لري



۵ مخ

## وزارت صحت‌عامه: رویدادهای مثبت ویروس کرونا در افغانستان به بیش از ۲۱ هزار رسید




وزارت صحت‌عامه اعلام کرده‌است که در یک شبانه روز گذشته ۵۴۲ رویداد مثبت تازهٔ ویروس کرونا در کشور ثبت شده‌اند. با این آمار، شمار مجموعی بیماران کووید-۱۹ در افغانستان به ۲۱,۴۵۹ تن رسید. رویدادهای تازه مثبت از میان ۱,۲۲۵ نمونه مشکوک، تشخیص شده‌اند. ۲۱۳ رویداد تازه تنها در ولایت کابل ثبت شده‌اند.

این رویدادها در ولایت‌های کابل (۲۱۳)، هرات (۱۴۲)، پکتیا (۲۲)، ننگرهار (۹۲)، غزنی (۳۶)، لوگر (۴)، لغمان (۱۲)، کندز (۸)، کنر (۱)، کاپیسا (۵) و پنجشیر (۷)، ثبت شده‌اند.

وزارت صحت عامه می‌افزاید که ۱۵ تن در ۲۴ ساعت گذشته جان باخته‌اند و ۴۸۰ تن دیگر، بهبود یافته‌اند. تاکنون ۳۸۴ بیمار این ویروس در کشور جان باخته‌اند و دو هزار و ٦۵۱ بیمار هم بهبود یافته‌اند.

بر بنیاد آمار وزارت صحبت، تاکنون ۴۸,۳۰۵ تن در کشور آزمایش شده‌اند و شمار رویدادهای فعال ۱۸,۴۲۴ می‌باشد.

وحید مجروح، معاون وزارت صحت در یک نشست خبری دیروز گفت که شمار مبتلایان ویروس کرونا بیشتر از آن است که این وزارت، گزارش داده است. او در این باره افزود: «آمار که تاکنون پخش شده است، تنها از کسانی است که آزمایش شده است و کسانی که مشکل شان کم است، به شفاخانه ها مراجعه نمی کنند.» او همچنان از مردم خواست که برای جلوگیری از گُسترش این ویروس، هنگامی بیرون رفتن از خانه های شان، باید ماسک بپوشند.



Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ
Aksos
کابل دریمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## دریـــځ

# د باجوه سفر، موخې او د ښکېلو لورو دریځونه

د پاکستان د پوځ مشر جنرال قمر جاوید باجوه په کابل کې له اشرف غني او عبدالله عبدالله سره کتلي دي. ارګ یوازې دومره ویلي چې د سولې پروسه، له دې پروسې د پاکستان ملاتړ او د یو بل پر ضد د دغو هېوادونو د خاورو نه استعمال د بحث موضوعات وو. جنرال باجوه له هغه وروسته کابل ته راغی چې په اسلام اباد کې یې د افغان سولې په تړاو د امریکا له ځانګړي استازي سره وکتل.

د باجوه د سفر موخه څه ده او پاکستان په روانه لوبه کې چېرته دی؟

د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې په خبرو او بیا هوکړه کې د پاکستان رول کلیدي دی. کله چې موږ د پاکستان خبره کوو، مطلب مو د پاکستان پوځ او استخبارات دي، ځکه هلته ملکي حکومت په لویو چارو کې کوم رول نه لري. د سولې د خبرو له پیل سره پاکستان ته له امریکایي اړخه پرله پسې پټ او ښکاره امتیازات ورکړل شول. ځیني امتیازات مستقیم وو، لکه امریکا خپلې بندې شوې مرستې بېرته ور پرانیستې، خو ځیني امتیازات یې د اماراتو او سعودي په وسیله ورکړل او یا یې هم پاکستان ته اجازه ورکړه چې پر ډیورنډ کرښه لا زیات تاسیسات جوړ کړي او آن د اغزن سیم او نورو تاسیساتو لګښت هم امریکا ورکړ. پاکستان بیا پر طالبانو پوره فشار راوړ او له امریکا سره یې هوکړې ته حاضر کړل. ملا برادر یې له بنده خوشې کړ، د قطر دفتر ټول نوي غړي د پاکستان له هوایي ډګرونو قطر ته ولاړل. دا سمه ده چې دغو کسانو ته افغاني پاسپورټونه ورکړل شوي وو، خو قطر ته یې تګ د پاکستان له هوایي ډګرونو څخه و. د خبرو په جریان کې هم پر طالبانو فشارونه وو او آن کله کله به یې ځیني مشران په پاکستان کې د حکومت له خوا ونیول شول. دغو فشارونو له امریکا سره مرسته وکړه او طالبان یې د ځینو مهمو شرطونو منلو ته اړ کړل.

اوس چې امریکا له پاکستان څخه نوره مرسته هم غواړي، پاکستان غواړي چې په بدل کې یې د اشرف غني حکومت هم امتیازات ورکړي. که څه هم ځیني امتیازات له وړاندې پاکستان ته ورکړل شوي، مثلاً د پاکستاني طالبانو مشر ووژل شو او ارګ وویل چې دا کار د دوی په مرسته شوی، د پاکستاني طالبانو بندي مشر پاکستان ته ژوندی وسپارل شو، قبایلي سیمې په رسمي ډول د پاکستاني حکومت برخه شوې، پر ډیورنډ کرښه اغزن سیم او تاسیسات جوړل شول او د دې تر څنګ ځیني نور مهم امتیازات هم پاکستان ته ورکړل شوي، خو دا ځل پاکستان تر دې هم زیات غواړي. له همدې امله جنرال باجوه کابل ته راغلی او هڅه کوي چې خپلو موخو ته ورسیږي.

له بده مرغه زموږ حکومت او طالبان دواړه له یو بل سره په دښمنۍ کې دومره وړاندې تللي چې ګټه یې د پاکستان پوځ او استخباراتو ته رسیږي. که نه، د افغانستان د سولې په پروسه کې د پاکستان د لوی درستیز خبرو او مرستې ته څه اړتیا وه؟ که دواړو لورو سم دریځ لرلی، نو ارګ باید کابل ته د دغه سفر اجازه نه وی ورکړې او طالبانو هم باید ویلي وی چې دوی خپله پرېکړه کوي او له جنرال باجوه سره هر ډول معامله او خبرې به د دوی په دریځ هېڅ اغېز ونه کړي. اوس له بده مرغه نه طالبان داسې څه وایي او نه هم ارګ مناسب دریځ نیسي.

# د ډوما جنګ

لیکنه: صفیه حلیم

د ۱۷ مې پېړۍ په نیمایی کې دغه جنګ د هزارۍ تور غر کې وشو او په نتیجه کې یوسفزو دلته نورې ځمکې ونیولې.

د چترال او ګلګت له غرونو تر اباسین په درو کې لرغوني آریایي قامونه مېشت دي. په سوات، کونړ، کافرستان، چترال، ګلګت، اګرور او تالاش کې اوسېدونکي وګړي په نسلي توګه له پښتنو نه توپیر لري او دلته د زرګونو کلونو نه مېشت وو. د دغو ټولو لپاره «دردیک» یا «درد» توری کارېږي چې ژبو، عقیدو او د کړو وړو د توپیر سره وېشلي وو. د پاکستان «کېلاش» قام اوس هم د خپلو روایاتو او عقیدو منونکي دي. ډوما د اباسین په ختیځه غاړه د هزارې د تورغر په یوه دره کې مېشت وو. دوی د مانسهري پکهلي راجه ته پتمن وو چې مغلو ته یې باج ورکاوه. دغه ټوله سیمه اوس د «کوهستان» په نوم پېژندل کېږي. ډوما درې ته تلل ګران وو؛ ځکه سړک ورته نه و او خلک یې یوازې پاتې وو. د قام مشر «ډوما خان» به اوړی بونېر او ژمی د تور غر په پلوسه کې تېراوه.

په ۱٦۲۰ز کال کې د کالو خان له مړینې وروسته د یوسفزو باکو خان قامي مشر شو. ده د شاو خوا نورو زمکو د نیولو لپاره لوی لښکر جوړاوه. هغه وخت د صوفي مسلمانانو څو ډلې له یو بل سره په مناقشو اخته وو. د چشتیه صابري صوفي طریقې منونکي په دوو ډلو؛ چشتیه نظامي او چشتیه صابریه وېشلي وو. صابریه ډله د اورنګزېب خلاف او پښتانه یې د هغه مخالفت ته راهڅول.

د اخوند څالاک (چالاک) اصل نوم اکبر شاه و. د ده د نسب په اړه هر تاریخ بېل معلومات ورکوي. یو دا چې هغه په ختېه درانی ابدالي افغان و. د ده بل ورور عمر د «پیر سباک» په لقب مشهور و. دواړه ورونه د اخوند پنجو (شیخ عبدالوهاب) مریدان او د اخوند درویزه ډلې سره یې مخالفت لرلو. په تاریخ مرصع کې لیکلي چې دی د خېل له مخې ترین دی، خو پلار یې په ختکو کې استوګن و، نو له همدې بابته به هر وخت د خپل پلار د زیارت لپاره راتلو او پخپله د غزا په هیله له یوسفزو سره اوسېدو. اخون درویزه لیکي چې یو ځلې د ختکو پیران، عمر او څالاک، بونېر ته راغلل. خلکو غوښتل چې دوی له ما سره مناقشه وکړي، خو زه خاموش پاتې شوم.

چالاک دره د کابل په شمال کې ده. بابر لیکي: «د کابل کلا په جنوب کې لوی تالاب دی... شاوخوا درې مرغزار چې د یو نوم سیاه سنګ، بل سونک قورغان او درېیم چالاک دی...».

اخوند څالاک له اخوند پنجو دیني زدهکړې تر سره کړې، نو هغه ورله یو اس او توره ډالۍ کړل. هم هغه وخت ملا څالاک د یوسفزو مشر ته ورغلو او هغه یې جهاد ته راوهڅاوه. د خدو خېلو باکو خان د ده په اشاره خلک راټول کړل او د پښتنو په حجرو کې د مغلو خلاف د غزا تیاری پیل شو. اورنګزیب یو سخت دریځ مسلمان و چې په موسیقۍ یې بندیز لګولی او پخپله د اسلامي شریعت پابند و، خو اخوند څالاک د هغه مخالفت کاوه. د اورنګزیب په تاریخ کې ملا چالاک «دوکه باز او سازشي» په نوم او باکو خان د «تورمخي» په نوم نومول شوی دی.

د اخوند څالاک د جهاد هدف واړه قامونه ځپل وو چې اورنګزیب ته پتمن وو. هغه په تنولي کې د دوو مشرانو سره ولیدل چې په هزاره کې د «لالوګلی» سیمه په زوره له مغلو بېرته واخیسته. د تنولیانو شفاهي کیسو کې وایي چې اخوند څالاک هلته د «بادشاه ډوما» له خوا وننګول شو. په ۱٦٦۷ز کال کې اخوند څالاک باکو خان په ملاتړ، بټه ګرام کې د مغلو په «چنچل» (چانجل) کلا حمله وکړه. ملا څالاک د یوسفزو نه علاوه، د مندېنو نورو قامونو ته هم د جهاد پیغام ورساوه او تور غر په درو کې یې ورې حملې شروع کړې.

په یوه ټاکلې ورځ د ملا څالاک لښکر په ډوما ور وختلو او هلته یې یو ناتار جوړ کړ. د ډوما له خوا ورسره سخته مقابله وشوه. د ډوما باچا پخپله هم د جنګ میدان ته راوتلی و. وایي چې د حسن زو د کوټوالي یو ځوان په هغه غشی وویشتلو. د باچا له مړینې سره پښتنو په دغه دره یرغل او په چور چپاول یې ګوتې پورې کړې. د هر چا هر څه چې لاس ته چې ورتلل، هغه یې د غنیمت په توګه له ځانه سره وړل. د ډوما د خان کونډه «شنډۍ» اخوند څالاک په زوره مسلمان او باکو خان ته په نکاح کړه. ورپسې د ظلم او د یوه قام د ختمولو لړۍ پیل شوه چې مشر یې اخوند څالاک و.

هغه په تور غر کې د یوسفزو مداخیل، حسن زي، اکازي، نصرت خیل او بسیخیل قامونه مېشت کړل. د ډوما خلکو د کر ځمکې یې په هغوی ووېشلې او د دغه درې بنه یې بدله کړه. خپل ظلم ته د جواز ورکولو لپاره یوسفزو د ډوما په اړه رنګا رنګ کیسې جوړې کړې. ډوما یې د انسان په ځای ځناور یا وحشي مخلوق وګڼلو. دا چې د ډوما خلکو خامه غوښه خوړه، وینه یې د اګۍ ژېړ په شان وي. هم هغسې چې د اروپا سپین پوستو اباد کارو د افریقا خلک «ځناور» اعلانول.

د یوسفزو له ابادولو سره سره، اخوند څالاک د کافرانو په مسلمانولو لاس پورې کړ. په دیر، کوهستان او سوات کې د ډوما په شان نور قامونه هم د ده هدف شول چې پخپلو پخوانو روایاتو ولاړ وو. اخوند څالاک به د خپلې ډلې سره ورتلو او پوره کلي ته به یې د اسلام دعوت ورکړو. بیا په یو ټاکلي ورځ هلته حمله وکړه او چې څوک به نه وو مسلمان شوي، هغه به یې ووژل. هم دغسې یو جنګ د بره دیر په «بټوټ» کې وشو چې هلته د کوهستان لوی شمیر خلک یې ووژل او یوازې هغه کس به یې ژوندی پرېښودو چې کلیمه به یې ورته وویله.

په تورغر کې د یوسفزو اباد شویو قامونو، شاوخوا ۲۰۰ کاله د اباسین پرغاړه «د ډومامو ګټ» په نوم په یوې لویې تیږې خپلې جرګې کولې. دا تیږه په ۱۹۷۰ز کال کې د تربیلا بند د جوړېدو په وخت په اوبو کې پټه شوه. هلته اوس هم «ډوما خوړ» شته چې پکې د دغه قام باچا وژل شوی و. اخوند څالاک پخپله هم د اباسین پر غاړه په یوه کلي «کابل ګرام» کې مېشت شو. وروسته د هغه زوی اشرف شاه د «سواتو بابا» په لقب مشهور و. دی د مانسهري د بټل په هروړي خاکو کلي کې اوسېدو. د ده ټبر سري د خپل نوم سره سید او د شاه توری کاروي، نو ځکه خلک یې سیدان ګڼي.

د دیر کوهستان بره غرونو دردیک خلکو تر۱۹ پېړۍ هم خپله عقیده نه وه پرېښې. د برېټانوي هند له خوا ټاکل شوی د «دیر» پښتون نواب د خپل ریاست د پراخولو لپاره د کوهستانیانو په ځمکو اخیستو لاس پورې کړ. د انګریز په نوې وسله سمبال پښتانه به کلیو ته په زوره ننوتل. هغوی سره به یوازې غشي لیندۍ یا جزېل ټوپک و. زورور خلک به د نواب له پنجو وتښتېدل او کمزوري به په زوره مسلمان کړی شول.

د اباسین پر څنډه دوه ځایونه بر او کوز «کابل ګرام» نومېږي. دلته یوې پخوانۍ هدیرې کې د اخوند څالاک قبر هم شته چې توره پرې جوړه ده، خو د مړینې نېټه پرې نه ده لیکل شوې. په ډوما دره کې اوس چغرزي قام پروت دی. د اخوند څالاک د کورنۍ «مولانا ولي الله کابل ګرامي» د پاکستان د طالبانو په تحریک کې د ملا فضل الله سره مل و.

# سیګار: د افغانستان په شل کلنه جګړه کې ۲۴۳۹ امریکایي عسکر وژل شوي او ۲۰٦٦۳ نور ټپیان شوي

د افغانستان د بیا رغونې په چارو کې د امریکا ځانګړي سرمفتش یا سیګار له ۲۰۰۱ څخه تر ۲۰۲۰ ز کلونو پورې د افغانستان په جګړې کې د وژل شویو او ژوبل شویو امریکایي سرتېرو شمېره اعلان کړه.

د سیګار په تازه راپور کې ویل شوي چې د ۲۰۰۱ ز کال د اکتوبر له لومړۍ څخه د ۲۰۲۰ ز کال د اپریل تر ۱۷ مې پورې په افغانستان کې ۲۴۳۹ امریکایي عسکر او پرسونل وژل شوي دي.

په افغانستان کې پر امریکایي عسکرو باندې تر ټولو تازه بریدونه د همدغه کال په لومړیو دریو میاشتو کې شوي چې د سیګار د راپور پر اساس، پکې اووه امریکایي عسکر وژل شوي او ۱۱ نور ژوبل شوي دي.

سیګار وایي، چې د روان کال په لومړۍ برخه کې د تېرکال د وروستۍ برخې په پرتله د امریکایي ځواکونو تلفات زیات وو.



سیګار دغه راز زیاتوي چې د دغو عسکرو په وژل کېدو سره په افغانستان کې د امریکا د ټولو وژل شویو سرتېرو شمېر ۲۴۳۹ ته ورسېد چې په دې کې ۱۴۰۹ یې په مخامخ جګړه کې، ۴۹۷ یې د ټپونو له کبله او دری نور یې په نورو بریدونو کې وژل شوي دي. همدغه راز ۵۳۰ نور پرسونل په نورو پېښو کې وژل شوي او تر دې دمه ۲۰٦٦۳ نور پرسونل ژوبل شوي دي. که څه هم چې سیګار دا راپور تېره ورځ خپور کړی، خو د امریکا د دفاع وزارت تر اوسه په دې اړه څه نه دي ویلي.

دا په داسې حال کې ده چې امریکا د ۲۰۰۱ ز کال د سپټمبر په میاشت کې د نیویارک په تجارتي ودانیو باندې د القاعده ډلې، چې د طالبانو نظام یې ننګه کوله، له ترهګریزو بریدونو وروسته په افغانستان کې د نړیوال تروریزم پر ضد جګړه پیل کړه.

سیګار په خپل راپور کې د افغانستان د امنیتي او دفاعي ځواکونو د تلفاتو شمېرې نه دي خپرې کړې، خو وایي چې د ۲۰۲۰ ز کال د جنورۍ له لومړۍ د مارچ تر ۳۱ مې پورې په افغان ځواکونو باندې ۱۷ داخلي بریدونه شوي او ۵۷ تنه یې وژل شوي او ژوبل شوي دي.

د سیګار په راپور کې د ملکي تلفاتو یادونه هم شوې ده. سیګار د یوناما او نورو سرچینو په حواله په خپل راپور کې لیکلي چې یوازې له ۲۰۰۹ ز کال څخه تر ۲۰۱۹ ز کال پورې په جګړو کې څه باندې ۳۵۵۰۰ ولسي خلک وژل شوي چې ډېر مسوولیت یې د وسله والو طالبانو ته پر غاړه اچول شوی دی.

د سرچینې په خبره، د فبرورۍ په ۲۹ مه له طالبانو سره د امریکا له تړون وروسته په نړیوالو ځواکونو باندې د بریدونو کچه بیخي کمه شوې او یا نشته، خو پر افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو باندې د طالبانو بریدونه هماغسې روان دي.

# د کرونا په اړه د ختیځ فورم د مشر ډاکتر وضاح خنفر په زړه پورې وینا

ژباړه: حمید محمدشاه

وروستۍ برخه:

**په خلقت او نړۍ کې لاسوهنه**

الله پاک ځینې لارې او اصول ټاکلي چې طبیعي انډول وساتي، که انسان دا لارې او اصول مراعات نه کړي او گډوډ یې کړي، اغېز به یې ویجاړوونکی وي. هر کله چې د انسان له انسان او طبیعت سره اړیکه خرابه شي، نو لوړه او ډار رامنځته کیږي. په دې عصر کې چې موږ ژوند پکې کوو، د مادي وحشت او ډېر حرص له کبله د انسان له انسان سره اړیکه خرابه شوې ده، یوسړی به سل میلیارده ډالره پانگه لري، په مقابل کې به ولسونه له ډېران خپل خواړه راپیدا کوي، دا حالت معقول نه دی او نه د پایښت وړتیا لري.

بشریت اوس د طبیعت په برخه کې سرکښۍ ته مخه کړې ده، د استرالیا او امازون د ځنگلونو اورلگېدنه یې ښه بېلگه ده. لیکوال وایي: «د ځمکې سږي خراب شوي دي، دا ځنگلونه د انسان سربېره د نورو ژوندیو حیواناتو لپاره اکسیجن تولیدوي، د اقلیم د بدلون climate change له کبله یې اور اخستی، دا د انسان د حرص بله بېلگه ده».

کله چې مې ولوستل کرونا ویروس د انسانانو سږو ته رسېږي، له ځان سره مې وویل، سبحان الله! موږ د خپل حرص او تمې له کبله د ځمکې سږي ویجاړ کړل، اوس د سزا په توگه زموږ سږي خرابېږي. زما د باور له مخې، د انسان او طبیعت ترمنځ تړاو شته. څه چې پر طبیعت تر سره کېږي، زیان یې انسان ته رسېږي؛ ځکه همدا انسان طبیعي مخلوق دی، دا ژوندي موجود دی چې په طبیعت کې ژوند کوي. اکسیجن چې خراب شي، هوا او اقلیم چې بدل شي، همدا ضرر او زیان بېرته موږ (انسان) ته د وبا، ناروغیو، لوږې، بېوزلۍ، سیلابونو، توپان او اورلگېدنې پر بڼه راگرځي.

الله پاک چې په وچه او لمده کې د فساد په اړه وایي، انسان ته یې ضرر او سزا رسېږي. دا د الهي سزا په توگه نه چې له اسمانه را نازله شوې وي، بلکې د الله پاک په مخلوق او موجوداتو کې د لاسوهنې او گډوډۍ له کبله ضرر او سزا ته چې ټول انسانیت یې گوري.

ځکه خو الهي سپارښتنو ته ژمنتیا د عزتمند ژوند لپاره شرط او اړتیا ده، او ناکامي یې بیا یو یا دوو کسو ته سزا نه، بلکې د ځمکې پر سر ټولو مخلوقاتو ته وي.

نن ورځ د انسان د کړنو له کبله ځمکه ناروغه ده، دا ناروغي بیا انسان، حیوان او ټولو مخلوقات ته لېږدول کېږي. په دې پېړۍ کې د انساني مخلوق په توگه باید پر دې اعتراف وکړو، چې موږ د انسان په تاریخ کې تر ټولو بد مخلوق یو، موږ د الله په مخلوقات کې لاسوهنه کوو، طبیعي توازن مو له منځه وړی دی، د انسان د بې پایه حرص او تمې له کبله په لسگونو زره ډوله حیواني او نباتي موجودات له منځه تللي دي، زیان یې موږ ته راگرځي، څه چې په طبیعت کې پېښېږي، هغه په انسانیت کې هم کېږي.

**جیو سیاسي بدلون**

د کرونا ویروس ستراتېژیکې پایلې ډېرې پېچلې دي. موږ یې په اړه پرېکنده حکم نه شو کولای او یا له ویروس وروسته نړۍ په اړه وړاندوینه وکړو، چې حتمي به داسې کېږي، خو ځینې نښې یې په گوته کولای شو. چین اوس بېرته رغېږي، په دې اړه لا وروستۍ خبره هم سخته ده. که چېرې دا فرض کړو چې چین له دې وبا روغ راووت؛ امریکا، اروپا او نور هېوادونه اوس هم له دې ویروس ځورېږي او دا ناروغي پکې اوج ته رسېدلې ده. مانا یې دا ده چې چین به د اقتصادي او ستراتېژیک وضعیت له اړخه د نړۍ له نورو هېوادونو په غوره حالت کې وي.

که چېرې اوسنی اقتصادي وضعیت همداسې مخ پر خوړ و او خبره تر نړیوال رکود ورسېده، ډېری هېوادونه به دومره زیانمن شي، چې جبران به یې ناشونی وي. اقتصادي سیستم به له منځه ولاړ شي، صنعتي هېوادونه چې اقتصاد یې پر صادراتو ولاړ دی او هغه چې تېل تولیدوي، له سختو ستونزو سره مخ شي.

له بل پلوه، د لیونغرت ولسمشر په شتون کې د امریکا وضعیت هم دومره نه دی، چې سړی پرې زړه وتړي، د امریکا انځور به ژر تت شي؛ ځکه د کرونا د مهارولو لپاره امریکا چمتو نه ده، د امریکا روغتیایي سیستم به گډوډ شي، چې دا په خپله یوه ستونزه ده. کېدای شي دا سیستم د صحي بیمې له کبله، چې دومره ښه نه ده، ړنگ شي.

د امریکا ډېری استوگن د درملنې لگښت نه لري، کېدای شي دا هم یوه اندېښنه ده چې کرونا ویروس به ژر د خلکو تر منځ خپور شي او روغتونونه به یې د دومره ناروغانو د درملنې لپاره امکانات او ځای نه لري، دا بیا اقتصادي رکود ته لار هواروي. امریکا نن مرگونې هڅه کوي چې پر دې کړکیچ برلاسې شي، چې په تاریخ کې له داسې سخت روغتیایي واقعیت سره نه وه مخ شوې.

له څو کلونو راهیسې د امریکا نړیوال مقام پیکه شوی، هغه پخوانی برم نه دی ور پاتې، کرونا به دا پروسه نوره تېزه کړي، نور نړیوال قطبونه چې چین یې په سر کې دی، وار له مخه د نړۍ د مشرتابه لپاره رامخته شوي دي.

داسې ښکاري چې نړۍ دې اقتصادي کابوس راوینښه کړه، نړیوال اقتصادي توکي ټول په دې کې پاتې راغلل، چې له دې کړکېچ سره مقابله وکړي؛ ځکه ستونزه د پخوا په پرتله ډېره ستره ده.

ټرمپ هم په خپلې وینا کې وویل، بازارونه به ورغېږي او خپل طبیعي وضعیت ته به وگرځي، خو خلک او بیا په تېره بېوزله ډېر زیانمن شوي دي، ډېرو یې دندې له لاسه ورکړې دي یا لږ مزد تر لاسه کوي، دا د غمیزې پیل دی.

له کرونا وروسته به خلک پوه شي، چې ډېره پانگه یې له لاسه ورکړې ده. ډېری خلک به د پېر او پلور وس نه لري، نړیوال اقتصاد به دېوالي شوی وي او دا ټول ټولنیز او سیاسي اغېز لري. دا سمه ده چې متحده ایالتونه اوس له ستونزې سره لاس او گریوان دي، خو دا چې څه وخت به بېرته عادي حالت ته راگرځي، هېڅوک نه پوهېږي، زموږ د اټکل له مخې، اروپا به له اقتصادي اړخه ډېره وځپل شي.

د منځني ختیځ او افریقا د اقتصاد په اړه ځکه څه نه وایو، چې هغه وار له مخه په بد وضعیت کې دي، پرمختللي هېوادونه به ډېر تاون وکړي: ځکه اقتصاد یې ستر دی.

**پای**

# تمثیل که حقیقت؛

## حریت: امریکا اوس پوه شوه چې سوله او جگړه د پاکستان لاس کې دي



پاکستان د افغان سولې اصلي ادرس دی او امریکا په دې خبره پوهېږي. په ترکیه کې یوه خپرېدونکې ورځپاڼه وایي، خلیلزاد د سولې په تړاو هېڅ سفر پاکستان ته له تگ پرته نه دی کړی او امریکا په دې پوهېدلې چې یوازې پاکستان په افغانستان کې روانه جگړه پای ته رسولی شي. یاده ورځپاڼه داسې مهال دغه څرگندونې کوي چې خلیلزاد تازه پاکستان ته سفر کړی و او تر هغه وروسته د پاکستان د پوځ لوی درستیز افغانستان ته راغلی دی. ویل کېږي چې هغه به د بین الافغاني خبرو د پیل په اړه له افغان حکومت سره خبرې کړې وي.

له څه باندې یوه کال راهیسې امریکا هڅه پیل کړې چې په افغانستان کې روانه جگړه د خبرو له لارې حل کړي، خو په دې برخه کې یې هر ځل د پاکستان رول مهم بللی دی. افغان حکومت له کلونو راهیسې دا غږ کوي چې د افغان جگړې د رهبرۍ او تنظیم مرکزونه په افغانستان کې نه، بلکې په پاکستان کې دي، خو امریکا تازه ښایي دې پایلې ته رسېدلې وي او یا به داسې ښیي چې اوس یې په دې خبره سر خلاص شوی دی.

له څه باندې یوه کال راهیسې پاکستان ته د خلیلزاد سفرونه ټول له دوحې او کابل سره تړلي دي. هر کله چې د افغان سولې لپاره کابل یا دوحې ته ځي، نو پاکستان ته ارو مرو ورځي او په دې پوهېږي چې که هلته خلک خوښ نه وي، هڅې یې بې گټې دي.

په همدې تړاو تازه په ترکیه کې یوې خپرېدونکې ورځپاڼې حریت هم په یوه مطلب کې ویلي دي، امریکا اوس پوه شوې چې د افغان سولې ادرس پاکستان دی او دغه جگړه په اسلام اباد کې ختمېدلی شي. ورځپاڼه لیکي چې طالبان لا هم د پاکستان تر فوق العاده نفوذ لاندې دي او کولی شي د دغه هېواد په اشاره د کلونو لپاره په افغانستان کې جگړه وکړي. حریت لیکي: ((د کلونو په تېرېدو امریکا په تېره خلیلزاد ته دا ثابته شوې چې د افغان سولې کیلي د پاکستان په لاس کې ده. پاکستان اوس هم په فوق العاده توگه پر طالبانو نفوذ لري او ددوی په اشاره خپلې پرېکړې کوي)).

حریت د افغانستان جگړه د پاکستان او امریکا په لاس کې بللې ده. د سرچینې په خبره که د دواړو هېوادونو سیاسیون سره سلا شي، نو ښایي افغانستان ته سوله راشي او له دې پرته به په افغانستان کې جگړه اوږده شي. حریت زیاتوي: ((د پاکستان او امریکا سیاسیون که هوکړې ته ورسېدل، جگړه به ختمه شي، که دوی ونه غواړي چې په افغانستان کې سوله راشي، نو طالبان به د اوږدو کلونو لپاره د پاکستان په ملاتړ جگړې ته ادامه ورکړي)).

حریت ورځپاڼه داسې مهال دغه څرگندونې کوي چې خلیلزاد تازه د سولې په اړه هڅې پیل کړې دي، خو لومړۍ منډه یې بیا هم تر اسلام اباده کړې ده. ده او په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو عمومي قوماندان جنرال سکاټ میلر په اسلام اباد کې له پاکستاني چارواکو سره وکتل او له دې کتنې وروسته جنرال قمر جاوید باجوه کابل ته راغی، له ولسمشر غني او ډاکټر عبدالله عبدالله سره یې وکتل. په رسنیو کې داسې راپورونه خپاره شول چې گواکې ده د بین الافغاني خبرو د پیل په تړاو د طالبانو پیغام راوړی دی، خو ارگ په خپره کړې اعلامیه کې ویلي چې د بحث شوو مواردو په اړه به د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو وزارتونه معلومات خپاره کړي.

له دې سره جوخت افغان حکومت هم د سولې لپاره هڅې چټکې کړې دي. افغان حکومت ژمنه کړې چې د طالبانو زندانیان به خوشې کوي او تازه ولسمشر غني د طالبانو هغه جریمې هم ښښلې چې افغان حکومت ته د زیان اړولو له امله یې په ورکړه مکلف شوي وو. له دې ورهاخوا طالبانو بیا ځینې زندانیان خوشې کړي دي، تازه داسې گنگوسې خپرې شوې چې له افغان حکومت سره د مخامخ خبرو لپاره تیار دي، خو لا هم افغان حکومت لاسپوځی بولي او خپلو مذاکراتو له افغانانو سره مذاکرات بولي، نه له افغان حکومت سره.

د روغتیا نړیوال سازمان:

## کرونا ویروس لاهم په نړۍ کې په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی

د روغتیا نړیوال سازمان مشر تدروس ادهانوم گبریاسوس وایي، چې لاهم په نړۍ کې کرونا ویروس په چټکۍ سره د پراختیا په حال کې دی.

د دغه سازمان مشر په یوه انلاین غونډه کې ویلي چې په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر هېڅ نه دی کم شوی.

نوموړي ویلي: «د روغتیا نړیوال سازمان شاوخوا اووه میلیونه مثبتې پېښې راپور کړي دي. که څه هم په اروپا کې وضعیت مخ پر سمېدو دی، خو په نوره نړۍ کې وضعیت خراب شوی دی. تر یو لک زیاتې پېښې په تېرو نهو یا ۱۰ ورځو کې راپور شوي دي.»

دا په داسې حال کې ده چې د جانز هاپکنز پوهنتون د معلوماتو له مخې، تر امریکا او برازیل وروسته په روسیه کې د کرونا ویروس تر ټولو زیاتې پېښې ثبت شوې دي.

د دغو دریو هېوادونو ترڅنگ په تېرو ۱۰ ورځو کې تر ټولو زیاتې د (کووېډ-۱۹) پېښې په هندوستان، پیرو، چیلي، سعودي عربستان او پاکستان کې ثبت شوې دي.

دا په داسې حال کې ده چې د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې له ۷.۲۷ میلیونو اوښتې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۴۱۱ زره او ۵۴۱ تنه مړه شوي او نږدې درې نیم میلیونه بېرته رغېدلي دي. د دغو شمېر پر اساس، امریکا د کرونا د دوه میلیونه او ۳۵ زره او ۶۰۷ مثبتو پېښو او ۱۱۳ زره او ۶۷۰ مړو په درلودو سره د نړۍ تر ټول مخکښ هېواد دی. دغه راز له امریکا وروسته برازیل د ۷۱۹ زره او ۴۴۹ مثبتو پېښو او ۳۷ زره او ۸۴۰ مړو له کبله دویم، روسیه د ۴۸۵ زره او ۲۵۳ مثبتو پېښو په درلودو سره درېیم، برېټانیا د ۲۸۹ زره او ۱۴۰ مثبتو پېښو له اړخه څلورم او اسپانیا د ۲۸۹ زره او ۴۶ مثبتو پېښو په درلودو سره پنځم، هغه هېوادونه دي چې د دغه ویروس زیاتې پېښې پکې ثبت شوې دي. دغه راز هند، ایټالیا، پیرو، جرمني او ایران په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې یاد ویروس ډېر ځپلي دي.




## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### دویمه برخه

### یو کاروبار او اته شتمني جوړوونکې دارايي اتم څپرکی




د B او I کونجونه یا د تجارت او پانگوني کونجونه د پیسو گټلو لپاره نه دي، بلکې په دې کونجونو کې پیسې تولیدېږي، یانې دلته د پیسو گټل اصل نه دی، اصل هغه ثروت دی چې پیسې پرې گټل کېږي.

ستا په اړه حقیقت

د زیاتو خلکو په نظر ځینې شیان شتمني ده؛ خو هغه په حقیقت کې شتمني نه، بلکې تاوان وي. پر دې ځنگه پوه شو چې دا شتمني ده که تاوان، پانگه ده که یو بې ارزښته ځیز. یا په بله وینا، دا هغه پیسې دي چې زموږ جیبونو ته راځي که هغه پیسې دي چې زموږ له جیبونو څخه وځي؟ هر کار یا پیسې زېږوي یا یې له منځه وړي. څه چې پیسې نه تولیدوي، هغه شتمني نه، بلکې تاوان دی.

خلکو له کلونو راهیسې خپل کورونه په گروی ورکړي چې د خپلو اعتبار کارتونو پور پرې ادا کړي، رخصتۍ وکړي، گرانبیه موټرونه واخلي او ورته نور کارونه وکړي. ښایي تاسو هم داسې کړي وي. ښایي تاسو هم د هغو خلکو له ډلې یاست چې خپل کورونه، ثروت او دارايي گڼئ او د پیسو د کارتونو په څېر یې استعمالوئ.

دا خبره به لږ درته روښانه کړم چې ثروت یا دارايي (Asset) څه شی ده. خلک د دې په اړه دومره گډوډېږي چې له زړه نا زړه توبه قاموس ته سر ورښکاره کوي او هلته یې دا مانا تر سترگو شي:«هر هغه شی دارايي ده چې ارزښت یا قیمت ولري.» ښایي دا مانا سمه وي. خو دلته اصلي ستونزه د «ارزښت او قیمت» کلیمو جوړه کړې ده. زه به پوښتنه درنه وکړم: «ستاسو کور څومره بیه لري؟»

مخکې تر دې چې تاسو ځواب راکړئ، زه به خپله پوښتنه په بله طریقه هم وکړم: «ستاسو کور د میاشتې څومره گټه درته کوي؟»

ستاسو ځواب به دا وي:«هېڅ گټه نه کوي. د هغه په تغییر، ترمیم او ساتنه هره میاشت زیات مصرف هم کوم.» بلکل. نو موږ ویلای شو چې ستاسو کور ستاسو لپاره گټه نه ده، بلکې تاوان دی. ځکه هره میاشت پیسې پرې مصرفوئ.

که تاسو وایئ:«زما کور زرگونه ډالره ارزښت لري.»

رښتیا؟ څه وخت؟ ایا د یوه نامعلوم وخت قیمت اوس پرې ږدې؟ که کور خرڅ کړې، چېرې ژوند کوې؟ ایا د دې کور له پلورولو ترلاسه شوې پیسې په بل کور مصرفوې؟ که تاسو خپل کور وپلورئ او هغه پیسې په بل کور بندې کړی، نو پانگونې او کاروبار ته پیسې له کومه کوئ؟ اصلاً ستاسو کور ستاسو دارايي او ثروت نه دی، بلکې په ځمکه کې هغه سوری دی چې ستاسو پیسې ور لوېږي.

۹. د دارايي او د ځمکې د هغه سوري چې پیسې ورلوېږي، توپیر څنگه وکړو؟

د دارايي کومه مانا چې په قاموس کې راغلې، یوه گړی به یې له یاده وباسو. راځئ چې له حقیقي نړۍ څخه خبرې وکړو.

Asset یا دارايي هغه څه ته ویل کېږي چې ستا لپاره کار کوي او تا نه مجبوروي چې په خپل پاتې ژوند کې کار کولو ته اړ شې. نېستمن پلار به مې ویل:«د دندې لپاره کار وکړه» او شتمن پلار به مې ویل:«دارايي پیدا کړه.»

د B کونج یا تجارت په اړه پیاوړې خبره دا ده؛ که کاروبار جوړ کړې، نو دارايي منځته راځي. د «Rich Rad» په نوم یوه تجارت کې په نړۍ کې اداري لرم. که کار کوم، که ویده یم او که د گلف لوبه کوم؛ په ټولو وختونو کې پیسې راروانې وي. دا غیرفعاله گټه؛ پاتېدونکې گټه ده. د دندې لپاره کار نه کوم، د دارايي رامنځته کولو لپاره یې کوم، ځکه له ما سره د شتمنو خلکو فکر دی، نه د کارگر.

د تجارت لرل د دارايي لرل دي. که شبکه یي بازار موندنه جوړه کړئ، نو یوازې به مو د ژوند اړین مهارتونه نه وي زده کړي، بلکې رښتینې دارايي به مو هم رامنځته کړې وي. په شبکه یي بازارموندنه کې د پیسو گټلو پر ځای هغه دارايي رامنځته کوئ چې تاسو ته پیسې گټي.

زه یوازې په هغه څه کې پانگونه کوم چې پیسې راته گټي. که یې پیسې راته وگټلې دارايي ده او که یې پیسې رانه وړې، تاوان دی. دوه پورش موټرونه لرم، دواړه تاوان دی. زه د دواړو مالک یم، هغه ما ته پیسې نه گټي، بلکې له جیبه مې پیسې باسي. دا ډېره ساده خبره ده، په دې خبره پوهېدل ساینس ته اړتیا نه لري.

هغه خلک چې په دې خبره پوهېږي، هغوی ته لومړنۍ دارايي تجارت او دویمه دارايي ملکیت دی. په ملکیت کې باید له گټې او پانگې څخه د ترلاسه کېدونکو پیسو توپیر وکړئ. ډېر خلک پر دې نه پوهېږي. کله چې دوی پانگونه کوي، نو له پانگې څخه په ترلاسه شوو پیسو یې کوي. دوی وایي:«زما د کور قیمت لوړ شو. زما د موټر قیمت لوړ شو.» د قیمت دغه لوړوالی له پانگې څخه ترلاسه شوې پیسې دي، دا خالصه گټه نه ده. د اصلي پانگې او گټې ترمنځ توپیر شته.

**دوام لري...**

# مشري؛ د کاروباري چارو مدیریت

اکسوس کتابپلورنځی




(مشري؛ د کاروباري چارو مدیریت) کتاب تازه پښتو ژبې ته ژباړل شوی دی. د کتاب لیکوال مشهور امریکایی جان مکسوېل دی. مکسوېل د مدیریت او رهبرۍ برخې متخصص کس پېژندل شوی، چې په دې برخه کې یې له ډېرشو زیات کتابونه لیکلي دي. مکسوېل نه یوازې دا چې په دې برخه کې کتابونه لیکي، بلکې علمي سیمینارونه، ورکشاپونه او په دې سربېره نیویارک ټایمز او وال سټرېټ ژورنال او په نړیواله کچه نورو مشهورو ورځپاڼو ته هم لیکنې کوي. مکسوېل په ۲۰۱۴ ز کال کې د INC مجلې له خوا په نړۍ کې د مدیریت او رهبرۍ برخې د متخصص په توگه پېژندل شوی دی.

د کتاب پښتو ژباړه نعمت الله عزیزي کړې، چې همدا پښتو بڼه یې د اوو څپرکو په درلودو سره په ۱۰۳ مخونو کې راخلاصه شوې ده.

د دغه کتاب اصلي موضوع د ډله ییز کار پر ارزښت او اهمیت او دا چې ډله ییز کار د انفرادي هغه په پرتله څومره گټور او اغېزمن دی؛ راڅرخي.

د دغه کتاب ارزښت زموږ په ټولنه کې تر هربل ځکه زیات دی، چې دلته په ډېرو علمي او اکاډمیکو مرکزونو کې، ډېر کسان له ډله ییز کار څخه تېښته کوي او فکر کوي چې په داسې طریقې سره کار کول له ستونزو سره ځان مخ کول دي.

د ډله ییز کار په اړه دا سې فکر کول، د دغه کار د پایلو په اړه د معلوماتو نه لرلو او یا هم په ځینو برخو کې د نسبي ترخو تجربو په پایله کې رامنځته کېږي. خو تر کومه چې ستونزو ته په ډله ییز ډول د حل لارې او د کار د غوره ترسره کېدو لپاره لارې چارې موندل کېدای شي، هېڅکله په یوازیتوب او په انفرادي ډول نه شي پیداکېدای.

خدای پاک انسان ټولنیز پیداکړی او فطرتاً ټولنیز ژوند خوښوي، ځکه په یوازې ځان نه شي کولای چې د ژوند ټولې اړتیاوې پوره کړي. په همدې اړه د دغه کتاب په یوه برخه کې راځي: «هېڅوک نه شي کولای چې د یوې ډلې د ټولو غړو کارونه ترسره کړي... موږ ټول یو بل ته اړتیا لرو، تاسې بل چا ته او بل څوک تاسې ته اړتیا لري...»

په دغه کتاب کې خلک ډله ییز کار ته هڅول شوي او د بېلابېلو بېلگو، تجربو او ویناوو په راوړلو سره، هڅه شوې چې لوستونکي د فردي کار په پرتله، د ډله ییز کار او په ټولنه کې د مثبت رول لوبولو پر ارزښت وپوهوي.

په ټوله کې مو کتاب له یوازیتوب او په یوازې ځان د کارونو له سرته رسولو راگرځوي، د ډله ییز کار او د هغه د اغېزمنو او په کم وخت کې یې د پایلو په لاسته راوړلو سره ستاسې پوهاوی زیاتوي.

مینه وال کولای شي دغه کتاب له اکسوس او په ښار کې له نورو لویو کتابپلورنځیو څخه په مناسب قېمت ترلاسه کړي.



## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | حقیقت و آفرینش نظریه یی تکامل | محمد فتح الله گولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۲ | جهاد روح و حقیقت آن در اسلام | محمد فتح الله گولن/صادق آینه پور | ۱۵۰ ؋ |
| ۳ | مبانی مدیریت بحران | مهدی ابراهیمی نژاد رفسنجانی | ۱۷۰ ؋ |
| ٤ | زندگی پیامبر ما | یوسف قره گل/احمد حسینی مروی | ۱۰۰ ؋ |
| ٥ | نورجاویدان جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن | ٦۰۰ ؋ |
| ٦ | کسیر جاودانگی کوزه شکسته | محمد فتح الله گولن | ۱۸۰ ؋ |
| ۷ | هیگل روح رستاخیزی در اندیشه و عمل | محمد فتح الله گولن/سهراب عمر | ۲۰۰ ؋ |
| ۸ | درسایه ی ایمان جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن | ۳۰۰ ؋ |
| ۹ | جنبش گولن | هلن رز ایباف/فیروزه درشتی | ۲۰۰ ؋ |
| ۱۰ | تقدیر از دیدگاه قران و سنت | محمد فتح الله گولن | ۱۲۰ ؋ |
| ۱۱ | منشور جلد اول و دوم | محمد فتح الله گولن/سهراب | ۳۲۰ ؋ |
| ۱۲ | در محور ارشاد | محمد فتح الله گولن | ۱۳۰ ؋ |
| ۱۳ | اقتصاد پیژندنه | محمد داود نیازی | ۳۵۰ ؋ |
| ۱٤ | د نړیوالو معاهداتو حقوق | ډاکتر موسی زاده/فضل ولي شیرانی | ۲۵۰ ؋ |
| ۱٥ | د افغانستان د اوبو حقوق | برکت الله اریوبي | ۱۰۰ ؋ |
| ۱٦ | متحده ایالات او د نړۍ ستر قدرتونه | بوزن بیری/روح الله زهیر | ۳۰۰ ؋ |
| ۱۷ | ملي امنیت او نړیوال نظام | ډاکتر جلیل روشندل/احمد شاه ویاړ او عزت بدلون | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۸ | ستراتیژیک‌مدیریت | فرید آر ډیوید/میراحمد یاد | ۲۷۰ ؋ |
| ۱۹ | کاروبار | محمد داود نیازی | ۲۲۰ ؋ |
| ۲۰ | د کار ستراتیژي | برایان ټریسی/العل الدین عاطف | ۱٥۰ ؋ |
| ۲۱ | د مغزو کنټرول | فرشاد نجفي پور/العل الدین عاطف | ۱٥۰ ؋ |
| ۲۲ | عامه تمویل | امان الله، محمد دواد نیازی | ۲۳۰ ؋ |
| ۲۳ | بریالی فکر | جان مکسویل/اسماعیل آشنا | ۲٥۰ ؋ |
| ۲٤ | د کاروبار اخلاق | انډریو گیلیر/میراحمد یاد | ۲۳۰ ؋ |
| ۲٥ | اصول مدیریت | علی رضائیان | ۲٥۰ ؋ |
| ۲٦ | مبانی سازمان و مدیریت | علی رضائیان | ۳٥۰ ؋ |
| ۲۷ | اقتصادشهری | نعمت الله اکبری | ۳۲۰ ؋ |
| ۲۸ | سیاست و حکومت خاورمیانه | حبیب الله ابوالحسن شیرازی، اسلان قربانی شیخ نشین، رضا سیمبر | ۲۰۰ ؋ |
| ۲۹ | مبانی مدیریت رفتار سازمانی | علی رضائیان | ۳٥۰ ؋ |
| ۳۰ | شبکه یی دولت | تیمور شاران/سمیع الله مجاهد | ۲٥۰ ؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ اړیکه: 9696-98-0798 - 0202504652

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۱۵ |
| € | ۸۵ |
| Rp. | ۶۷۳ |
| ₹ | ۹۷۰ |
| ¥ | ۱۰,۶۰ |
| £ | ۹۴,۵۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# د ځاني پرمختګ پلان څه ته ویل کیږي او څنګه یې جوړولی شو!؟

ژباړه: حزب الله جلال

د ځاني پرمختګ پلان هغه الزامي څه نه دي چې مدیر یې له کلنۍ ارزونې وړاندې تاسې پر ترتیب کولو مجبوروي؛ ځاني پرمختګ پلان هغه دی چې د راتلونکي لپاره ستاسې هیلې او خوبونه مو ستاسې د سترګو پر وړاندې ساتي. د یو ښه پلان درلول تمرکز دربښي، د بریا پر لور مو د پرمختګ د طرحې په ترتیب کې درسره مرسته کوي، غوره پرېکړې کولی شي، له شاتګ مو ساتي. که د پلان له مسیر پر غلط لور لاړ شی، بېرته مو خپلې لارې ته سموي. د یو واضح پلان درلودل مو رواني صحت ته هم ګټور تمامېږي، د یو هدفمند حس په لرلو ستاسې سره د روحي فشار او وېرې په کمولو کې مرسته کوي.

که تر اوسه مو نه وي انګېرلي چې پر کوم لور روان یاست، یا مو کوم پنځه کلن پلان نه وي ترتیب کړی، همدا یې وخت دی، فکر پیل کړئ چې په راتلونکي کې باید څوک شی او په کوم ځای کې و اوسئ. له پوهنتون نه تر فارغېدو وروسته د دندې د ترلاسه کولو لپاره هڅې کوی او یا هم د کار بازار هغه ډول نه و چې تاسې یې فکر کړی و، دا یې یوازینۍ لاره ده چې ځان منظم او خپل راتلونکی موقف پیدا کړی.

د ځاني پرمختګ پلان په لیکلو کې لاندې اووه مرحلې په پام کې ولرئ:

۱. خپلې موخې مو مشخصې کړئ

هغه څه چې په ژوند کې یې په ریښتیني مانا غواړی، وپلټی؛ هغه ستاسې اوږدمهاله موخې دي. د ژوند له ۲۱ وېرووونکو مرحلو څخه تاسې په یوې وېرووونکې مرحلې کې یاست. هرڅه درته بې نظمه ښکاري او په هر لور نا امیدي وي. په دې پوهېدل چې په راتلونکي کې څه غواړی شی، نه یوازې د پلان لومړۍ برخه ده، اما ستونزمنه هم ده. یو ځل که په دې پوه شوی چې څه کول غواړی، همدا خوب او خیال مو احساسات را کابو کوي او د بې نظمۍ پر مهال ثبات او نظم رامنځته کوي. په هر صورت، ستاسې د ژوند موخې به ستونزمنې وي، باید ستري او وېرووونکې ښکاره شي او په ټوله کې به پر تاسې فشار راوړوونکي وي.

تاسې به همدا ستر ګامونه په وړو وړو ګامونو ووېشئ، تر دې وروسته به همدا موخې د اداري او ترلاسه کېدو وړ وي او تاسې به یې ترلاسه هم کړی. اما مخکې له دې چې پورته چاره ترسره کړی، ستاسې موخې باید تاسې رام کړي. د دې لپاره چې تاسې د خپل راتلونکي په اړه فکر کوی او پلان ترتیبوی، په دې برخه کې ډار عادي او طبیعي دی؛ ځکه د خپل ژوند په اړه پلان جوړوی، په حقیقت کې دا یوه جدي موضوع ده.

۲. همدا موخې مو د لومړیتوب له مخې ترتیب کړئ

له دې وروسته تاسې اړتیا لری، ټول هغه واړه ګامونه چې ستاسې د سترو موخو د ترلاسه کولو لامل ګرځي، په پام کې ونیسئ. اړتیا ده چې همدا لنډمهاله موخې مو د لومړیتوب له مخې ترتیب کړئ. په یاد ولرئ چې یوځليهېڅ هم نه شی ترسره کولی، بار بار هڅې به مو له ناکامۍ ژغوري. هغه ګامونه چې اوس یې باید پورته کړی، په ګوته کړئ. ستري موخې ته د رسېدو لپاره مو د ځاني پرمختګ په پلان کې وړې موخې مشخصې کړئ. د بېلګې په توګه، که تاسې په پوهنتون کې د استاد په توګه مقررېدل یا هم د پوهاندۍ علمي رتبه ترلاسه کول غواړی، همدې موخې ته د رسېدو پر لاره کې ستاسې لپاره اړینه ده چې دوکتورا ولرئ. دا یوه ستره موخه ده او په لاندې توګه یې په وړو وړو برخو ووېشئ:

- دوکتورا ته د وړاندیز پر پروسه ځان پوه کړئ.
- مناسب پوهنتون او لارښود استاد پیدا کړئ.
- د مالي ملاتړ لارې چارې ورته پیدا کړئ.
- تحصیلي بورسیه پیدا او وړاندیز مو ور ولېږئ/ یا هم د خپلې خوښې پوهنتون ته مو وړاندیز ولېږئ.
- د دوکتورا وړاندیز مو ولیکئ او تسلیم یې کړئ.

۳. همدې موخو ته د رسېدو لپاره خپلې ټاکلې نېټې غوره کړئ

خپلې موخې ته رسېدو لپاره په ټاکلې نېټې پوهېدل اړین دي، د خپل راتلونکي انځورول د انګېزې او الهام اخیستلو لپاره مهمه سرچینه ده. خیال پلو د انګېزې د ژوندي ساتلو لپاره غوره مکانیزم دی. د خپلو موخو ټاکلې نېټې د مشخص کولو له لارې کولای شی چې قبضه یې په لاس کې واخلئ. که خپل لومړنی کور چې په څو کلنۍ کې به یې وپېرئ او یا هم کله به د دوکتورا د ترلاسه کولو د فراغت پر دریځ ودرېږی، انځور کړئ، دا به کله وي!؟ اما خیالونه هغه یوازینۍ لار نشي کېدی چې له لارې یې ټاکلې نېټې مشخص کړی. اړتیا ده چې خیالونه مو پر واقعیتونو ولاړ وي، کنه، نا امیده به شئ. له نورو سره د هغوی د تجربو په اړه د خبرو کولو او د پروسې په اړه د پلټنې له لارې مو د خپلو خیالونو یا خوبونو ته د ریښتیا کېدو امکانات ډېر کړئ، نو تاسې به پر واقعیتونو ولاړ نظر ومومی چې د څه توقع وکړی. د ریالیسم (حقیقت ګرایي) فکتورونه د دې لپاره اړین دي چې له نا امیدۍ مو ساتي. له نا اټکل شویو خطرونو سره مخ کېدل او ترې وتل به درسره د راتلونکي په اړه لا زده کړه در په برخه کړي او په راتلونکي کې د ستونزو سره مخ کېدل او د مخنیوي لپاره یې د پلان په برخه کې به هم درسره مرسته کوونکي وي.

۴. ګواښونه او فرصتونه مو وپېژنئ

د ځینو ځانګړو حالاتو او افکارو شتون چې ممکن بېروني اغېز او یا هم ستاسې د خپل فکر فکر زېږنده وي، که اجازه مو ورکړه، له خپلو موخو ته د رسېدو څخه به مو مخنیوي وکړي او مزل به مو لږ کرار کړي؛ همدا ستاسې ننګونې دي. د بېلګې په توګه، دوکتورا ته د وړاندیز کولو لپاره د انګېزې نه شتون به درته ډېر تاواني وي. اما، که یو ځل مو د نن او سبا کولو او یا هم د تمرکز د لاسه ورکولو میلان/ لامل مو درته معلوم شو، پرځای یې له هغه لارو چارو ګټه واخلئ چې د خپلو موخو پر لور مو انګېزه ژوندۍ ساتي.

ډېر داسې کارونه شته چې تاسې یې د ترسره کولو وړتیا لری او د خپلو اړیکو څخه ګټه اخیستنه چې ستاسې موخو ته د مزل په رالنډولو کې درسره مرسته کوي، دا هغه څه دي چې تاسې یې ترسره کولو ته باید ژمن و اوسئ؛ همدا ستاسې فرصتونه دي. د بېلګې په توګه، که کوم کنفرانس ترسره کیږي، له دې فرصت څخه ګټه پورته کړئ. مخ پر وړاندې لاړ شئ، اړیکې جوړې کړئ، پوهه مو په وروستي معلوماتو لا بډایه کړئ، حتی مقاله مو واوروئ.

۵. خپلو مهارتونه ته مو وده ورکړئ یا پوهه مو لوړه کړئ

که یو ځل پر دې پوه شوی چې څه مو د پرمختګ مخه ډب کوي او څه درسره په پرمختګ کې مرسته کوي، همدا یې وخت دی، له هغو فرصتونو څخه ګټه واخلئ چې تاسې پېژندلي دي او د همدې مزل د ترسره کولو لپاره د عمل پلان ترتیب کړئ. له دې وروسته، غیر ضروري مصرفونه مو راټیټ کړئ، ځان مو ډاډه کړئ چې انګېزه مو لا تانده ده. هر هغه څه چې ستاسې د پرمختګ مخه ډب کوي، د مخنیوي لپاره یې حل لار شته او هغه دا چې په لومړي ګام کې د عمل پلان درلودل دي.

۶. له خپلې ملاتړې ډلې ګټه واخلئ


هغه څه چې تاسې یې درک ته اړتیا لری، تاسې مجبور نه یاست چې هرڅه په یوازې ځان ترسره کړئ، باید ترسره یې نه کړئ. ستاسې شا او خوا ملاتړې ډله ارزښتناکه سرمایه ده او ګټه ترې واخلئ او هېڅکله هم همدې سرمایې ته په ټیټه سترګه مه ګورئ. د خپل ځاني پرمختګ په پلان کې د هغو خلکو نومونه لېست کړئ چې له تاسې سره مرسته کولای شي. مالي مشاور، ملګری او یا هم یو همکار مو په دې ډله کې راتللی شي. خلک تاسې سره د خپلې مرستې په برخه کې ستاسې له درک څخه پورته خوښي مومي.

۷. خپل پرمختګ مو مقایسه کړئ

ستر یا وړوکی پرمختګ؛ اما لږ وخت پر دې ولګوئ چې د پرمختګ پر لور مو څومره مزل کړی دی. که پر دې پوه شوی چې ډېره لاره مو لنډه کړې ده، انګیزه مو لا پیاوړې کړئ او کار ته کار ووایاست. که ماتې مو خوړلې وه، له دې وروسته د اروزنې لپاره بیا هم وخت لرئ. موخو ته د رسېدو پر لور پرځېدل او پاڅېدل؛ پر هر څه د صبر درلودل، غوره لار ده چې ستاسې لپاره اړینه ده. خپګان، قهر، او نا امیدي هغه احساسات دي چې منزل ته مو نه رسوي او پرته له شاتګ هېڅ نه در په برخه کوي.

لږ وخت مو باید پر دې ارزونه هم مصرف کړی چې ولې مو د موخې پر لور سم مزل نه دی کړی. ایا په ځان کې یې د مهارت او پوهې تشه تشخیصوی؟ که ځواب مو هو وي، کولای شئ د خپل راتلونکي ګام اخیستلو باندې د تمرکز له لارې خپل ځان بېرته خط ته سم کړئ. همدا چاره به مو د موخې لرلو حس بیا روښانه او د موخې پر لور به کنترول بیا ترلاسه کړئ چې د پرمختګ پر لور سمه لار بلل کیږي.

## ملي امنیت شورا: افغان حکومت د بین الافغاني خبرو د پیل لپاره بشپړ چمتووالی لري



ملي امنیت شورا بین الافغاني خبرو پیل ته له بشپړ چمتووالي خبر ورکوي او وایي چې تر اوسه له زندانونو د طالبانو درې زره بندیان ازاد شوي او دغه بهیر به د سولې په پروسه کې د اعتماد جوړونې په منظور دوام ولري.

د دغې شورا ویاند جاوید فیصل تېره ورځ په کابل کې یوې خبري ناستې ته وویل چې د افغانستان حکومت د بین الافغاني خبرو پیل ته د اسانتیاوو لپاره ډېرې هڅې کړې چې مهمه یې د طالب بندیانو خلاصول دي.

هغه د دولت له زندانونو د درې زرو طالب بندیانو ازادولو خبر ورکړ او وایي چې دغه بهیر به د سولې په پروسه کې د اعتماد جوړونې لپاره دوام ولري. نوموړي دغه راز له طالبانو هم وغوښتل چې د اعتماد جوړونې لپاره دې ټول امنیتي سرتېري او غیر نظامي کسان ازاد کړي.

فیصل د سولې خبرو پیل ته د حکومت له بشپړ چمتووالي خبر ورکړ، هیله یې څرګنده کړه چې طالبان دې هم خپل چمتووالی اعلان کړي. د ملي امنیت شورا ویاند له طالبانو وغوښتل چې د خپلو بریدونو او تاوتریخوالي کچه دې را ټیټه کړي، څو د دې ډلې پر وړاندې باور ډېر شي.

دا په داسې حال کې ده چې طالبان ادعا کوي چې تر اوسه یې ۴۵۰ بندیان ازاد کړي، خو د ملي امنیت شورا وایي چې طالبانو تر اوسه ۲۷۷ امنیتي کسان خوشي کړي. د فیصل په خبره چې د طالبانو له خوا خوشي شوي نور بندیان ملکي وګړي دي.

ټاکل شوې چې له زرو دولتي بندیانو سره د پنځو زرو طالب بندیانو له تبادلې وروسته د افغانستان د دولت او طالبانو ترمنځ مستقیمې خبرې پیل شي. دا په داسې حال کې ده چې د ملي مصالحې مشر ډاکتر عبدالله څو ورځې مخکې هیله ښوده چې ښایي بین الافغاني خبرې تر دوو اونیو پورې پیل شي.

بلخوا بیا د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړې استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې د بین الافغاني خبرو د ځای او نېټې په اړه د افغانستان له حکومت او طالبانو سره بحثونه دوام لري. د یادونې ده، پر قطر سربېره جرمني، ناروې، ازبکستان او اندونیزیا هم د بین الافغاني خبرو د کوربه توب لپاره لېوالتیا ښودلې ده.

د سولې د هوکړه لیک له مخې چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د ۱۳۹۸ کال د کب په لسمه په دوحه کې لاسلیک شو، باید له دغه هوکړه لیک لس ورځې وروسته بین الافغاني خبرې پیل شوې وای، خو د بندیان پر خلاصون د اختلافاتو له امله دغه خبرې پیل نه شوې.

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
STAY HOME
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۹ د غبرگولي ۲۱مه | د ۲۰۲۰ د جون لسمه |۵۴۸مه گڼه
www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | ۳۱ | ۳٤ | ۲۹ | ۳۵ | ۲۹ |
| ۱۳ | ۱٤ | ۱۷ | ۱۷ | ۲۲ | ۱۸ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۶ | لمر ختل ۰٤:٤۰ | ماسپښین ۱۱:٥٤ | مازیگر ۰۳:٤۰ | ماښام ۰۷:۰۷ | ماخوستن ۰۸:۵۲

## نړۍ




## ترکي رسنۍ: د ۲۰۱٦ کال په ناکامې کودتا کې د لاس لرلو په تور د سلگونو ترکي نظامیانو د نیولو امر شوی



د ترکیې حکومت په تازه اقداماتو کې د ۴۱۴ کسانو چې اکثریت یې نظامیان دي، د نیولو امر کړی دی. حکومتي چارواکي وایي، چې دغه کسان د ۲۰۱٦ ز کال په ناکامې پوځي کودتا کې دخیل وو. دا په داسې حال کې ده چې چارواکي په امریکا کې مېشت د ترکیې یو مذهبي مشر فتح الله گولن تورنوي چې دا کودتا یې پلان او تنظیم کړې وه. د راپورونو له مخې، په دې کودتا کې شاوخوا ۲۵۰ کسان ووژل شول. د ترکیې دولتي رسنۍ انادول د لوړ پوړیو چارواکو له خولې لیکلي چې چارواکو د فتح الله گولن د غړو د نیولو لپاره او ځېلو عملیات پیل کړي دي. د ترکیې په ۲۲ ولایتونو کې د دغو تورنو کسانو د نیولو عملیات پیل شوي او تر دې دمه پولیسو ۱٦۰ کسان نیولي دي.

په استانبول کې یو ځارنوال د ۱۵۸ پوځي افسرانو، ډاکټرانو او ښوونکو د نیولو امر هم کړی چې تر دې دمه ۸٦ کسان یې نیول شوي دي. په یوه بل فرمان کې د ترکیې د هوایي ځواکونو د ۳۲ غړو او په یوه بل جلا فرمان کې د ۳۳ نورو پولیس افسرانو د نیولو امر هم شوی دی. دوی ټول تورن دي چې د ۲۰۱٦ ز کال په کودتا کې یې لاس درلود.

د یادونې ده چې د ۲۰۱٦ ز کال له کودتا وروسته نږدې ۸۰زره کسان د محکمو پرېکړو ته منتظر دي او ۱۵۰ زره نور ملکي کارکوونکي، پوځي پرسونل او نور کسان یا له دندو شړل شوي او یا یې دندې ځنډول شوي دي.


## عرب اتحادیه: نه غواړو چې د سوریې سناریو په لیبیا کې هم تکرار شي

عرب اتحادیه وایي، نه غواړي چې د سوریې په څېر سناریو دې په لیبیا کې هم تکرار شي. دغې اتحادیې ویلي، هیله من دي چې د لیبیا د ملي یووالي حکومت به د قاهرې له وړاندې شوې طرحې هرکلی وکړي.

په ورته وخت کې په لیبیا کې د امریکا سفارت هم ویلي چې ښایي ډېر ژر په دغه هېواد کې د سیاسي خبرو اترو د پیل کېدو لپاره د ښکېلو لورو ترمنځ اوربند وشي. عربي سکای نیوز خبري آژانس د عرب اتحادیې د مرستیال حسام زکي له خولې ویلي، چې په لیبیا کې د روان کړکېچ د حل لپاره د د قاهرې وړاندې شوې طرحه مناسبه او اغېزمنه ده او په دې سره به په یاد هېواد کې دایمي اوربند ته هم لاره هواره شي.

هغه ویلي: «د لیبیا له ملي یووالي حکومت څخه مو تمه دا ده چې د دې طرحې هرکلی وکړي او په دې سره به یاد هېواد دایمي اوربند او ثبات ته ورسېږي». نوموړي دغه راز یوځل بیا ټینگار وکړ چې عرب اتحادیه د لیبیا د کړکېچ حل نظامي نه بولي او نه غواړي چې د سوریې سناریو دې په دغه هېواد کې هم تکرار شي. هغه پر ښکېلو خواوو غږ وکړ چې د ساسي حل په موخه دې ژر تر ژره پراخ اوربند رامنځته کړي.

## وزارت معادن: در انفجار معدن زغال سنگ در سمنگان ١٦ کارگر کشته شدند



وزارت معادن از کشته شدن ١٦کارگر در معدن شباشک در ولایت سمنگان خبرمیدهد؛ اما ولسوال دره صوف این ولایت گفته است که، دست کم ۲۰ تن از کارگران به داخل معدن گیرمانده اند .

عبدالقدیر مطفی، سخنگوی وزارت معادن، به رسانه ها گفته است، بر اساس آماری که به دست آنها رسیده اند حدود ١٦ تا ١٨ نفر در این معدن زیر آوار گیر مانده‌اند.

از سوی هم صدیق عزیزی، سخنگوی والی سمنگان، می گوید که تیم های کمک رسان به ساحه (معدن شباشک) رفته‌اند و هنوز سرنوشت گیرماندگان روشن نیست. محمد سلطان علی سلطانی ولسوال دره صوف بالا به آژانس خبری پژواک گفته است که تراکم گاز در داخل معدن شدید است و کار تیم نجات را دشوار کرده است و ممکن است شمار تلفات افزایش یابد.

سلطانی افزوده است :«این انفجار حوالی ساعت ١١ قبل از ظهر امروزاز اثر شیوع گاز میتان صورت گرفته وسقف تونل استخراجی فرو ریخته است.» موصوف گیرماندن دست کم ۲۰ کارگررا به داخل معدن تائید کرد وگفت که احتمال دارد اکثرآنها تلف شده باشند .


به گفته وی، گروه نجات در این معدن مصروف کار می باشند وتا الحال به کارگران که گیر مانده اند نرسیده و قرار اطلاعات باید این معدن۲۰ متر دیگر حفر شود.

در سال‌های گذشته حفاری‌های خودسرانه و غیرحرفه‌ای در معدن زغال سنگ در سمنگان بارها باعث حوادثی در این معدن و باعث کشته شدن ده‌ها نفر شده است.

این در حالیست که در انفجار در ماه ثور ١٣٩٥ در معدن زغال سنگ دهانه تور این ولسوالی ٢٦ معدنچی کشته شده بودند.


## ژوند

## د خپل وجود وړتیاوې مو وپېژنئ!



ښایي ډېرو ژوند کړی وي، عمر به یې تېر شوی وي، د ژوند خوږې او ترخې به یې لیدلې وي، خو ښایي د عمر تر پایه یې د خپل وجود وړتیاوې نه وي پېژندلې. دوی یوازې خوړلي، څښلي او ځان یې تقدیر ته سپارلی. خو هغو چې ځان پېژندلی، په نړۍ کې یې ستر بدلونونه راوستلي دي، هغوی پر دې پوه شوي چې نړۍ د انسان لپاره پیدا شوې، انسان د مرگ لپاره نه دی پیدا، مرگ د انسان لپاره پیدا دی، انسان د ژوند لپاره پیدا دی، څو په نړۍ کې د انسانیت او انساني ژوند ستر سمبول شي. انسان ته ښایي چې د ځمکې پر سر خپل رسالت تر سره کړي، هغه رسالت د ښه، با وقار او دیندارە ژوند تېرول دي. ارواپوهنې په دې وروستیو کې ډېر پرمختگ کړی، له خپل پرمختگ سره یې جوخت هغو ټولنو ته هم د پرمختگ واگې په لاس ورکړې چې ارواپوهنه مطالعه کوي او ارواپوهنې ته د ارزښت په سترگه گوري.

## که سپورت کوی، نو سهاره مهال ډېر گټور دی



ورزش یا سپورت په بېلابېلو وختونو کې پر بدن بېلابېلې اغېزې لري. کومه څېړنه چې د امریکا ورزشي ټولنې کړې، ښیي چې له خوب او سهارنۍ خوړلو وروسته ارام ورزش مو د ورځې په اوږدو کې د کار لپاره اماده کوي.

جام جېم ورځپاڼه لیکي، د سهار له خوا له ۳۰ نیولې بیا تر ۴۵ دقیقو پورې ورزش کولی شي د وخت په تېرېدو سره د وزن په کمولو کې درسره مرسته وکړي. که نه غواړئ په وږي نس ورزش وکړئ، کولی شی سهارنۍ وخوری او بیا ورزش وکړی.

متخصصان په دې اند دي چې د سهار له ٦ تر ۸ د ورزش لپاره تر ټولو ښه وخت دی؛ ځکه په دغه وخت کې کورتیزول (د سټرېس هورمون) په خپله لوړه سطحه کې وي. دغه هورمون د بدن د وازگو او کاربوهایدریټونو د سوځېدو لامل کېږي او پر انرژۍ یې بدلوي چې د ورزش پر مهال مصرفېږي. پر دې سربېره هغه ورزش کوونکي چې د سهار له خوا ورزش کوي، منظم خوب هم لري.

ماستر ډېبټ کارت
د عزیزي بانک ماستر ډېبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداگریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
• د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافی له ټولو اتومات ماشینونو څخه اخیستلی شئ.


www.azizibank.af 1515
عزیزي بانک
Azizi Bank